مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۵/۰۲

# د ایران، امریکا او اسرائیلو جګړه

## (دویمه‌برخه)

اسرائیلي ځواکونو د ۲۰۲۶ عیسوي کال د فبرورۍ په ۲۸مه پر ایران د هوایي بریدونو له لارې جګړه پیل کړه. د ټرمپ او نتنیاهو د اټکل له مخې د ایران د کورنیو ستونزو او د نظام د مخالیفینو د پاڅونونو له لارې به په جګړه کې د امریکا د شتون پرته ایران ډېر ژر سقوط وکړي، خو د ایران د متقابلو بریدونو، توغندیو بې پیلوټه الوتکو او مزایلو د جګړې وضعیت او د دوی اټکل بدل کړ.

امریکا له اته ورځني ځنډ وروسته په منځني ختیځ کې د خپل متحد اسرائیلو مرستې ته ور ودانګل او د ایران پر دریو اټومي سایټونو له هوایي برید سره د رواني جګړې دریېم اړخ شو. ولسمشر دونالډ ټرمپ په یوه ویډیويي پیغام کې د خپل برید خبر تایید کړ او داسې یې وویل:

«د امریکا هوایي ځواک د بي دوه (بي ټو) ډوله پرمختللو بمب غورځوونکو الوتکو په وسیله چې رادار سیستمونه یې هم نه شي موندلی، د ایران پر فُردو، نطنز او د اصفهان پر اټومي تأسیساتو د برید په نتیجه کې دغه تاسیسات په بشپړ ډول له منځه یوړل.»

ټرمپ په دې اړه وویل: «لږ مخکې د امریکا پوځ د ایران پر فردو، نطنز او اصفهان مهمو اټومي تأسیساتو دقیق برید ترسره کړ. تاسو ټولو به دغه نومونه اورېدلي وي چې له کلونو راهیسې یې په ویروونکي ډول ویجاړوونکي اقدامات په کې طرح کېدل. زموږ موخه د ایران د هستوي غني کولو ظرفیت له منځه وړل او د هغو ګواښونو درول دي چې د نړۍ د ترهګرۍ لومړي ملاتړي هېواد له لوري پېښېدل. نن نړۍ ته ویلی شم چې زموږ بریدونه د پوځي بریا له اړخه ډېر عالي وو. د ایران مهم او ډېر مهم هستوي تأسیسات په بشپړ ډول له منځه یوړل شول. ایران د منځني ختیځ د یو زوروکي هېواد په توګه باید اوس سوله وکړي. که داسې ونه کړي، زموږ راتلونکي بریدونه به ډېر پراخ او اسانه وي.»

همدا ډول ایران لا د مخه ګواښ کړی و چې، که چېرې امریکا د اسرائیلو او ایران په جګړه کې برخه واخلي، نو ایران به په منځني ختیځ کې د امریکا پر ټولو پوځي اډو بریدونه تر سره کړي. په رېښتیا هم د امریکا له لورې پر ایران د بریدونو په ځواب کې ایران پر قطر، عربي اماراتو دوبۍ او نورو هغو سیمو کې چې د امریکا نظامي اډې شتون درلود د توغندیو او بې پیلوټه الوتکو د ګذارونو ځپې پیل کړي.

د ایران او امریکا تر منځ شخړه، چې د څو لسیزو راهیسې دوام لري، نه یوازې د جګړې، بلکې د ډیپلوماتیکو معادلاتو په ډګر کې هم لا پېچلې شوې ده. واشنګټن په پیل کې داسې انګېرله، چې دا جګړه به لنډمهاله او هدفمنده وي، خو اوس په یوې اوږدې، څو اړخیزې جګړې بدله شوې او واشنګټن نه یوازې دا چې تر دې دمه حتا خپلو لومړنیو موخو ته نه دی رسېدلی، بلکې د هرې ورځې په تېرېدو سره یې د لګښتونو او زیانونو کچه پراخېږي. له بله پلوه د ټرمپ هغه خبرې هم غلطې ثابتې شوې چې ویل یې د ایران ټول هستوي تأسیسات یې له منځه وړي دي.

د ټرمپ د اداري بله تېروتنه دا وه چې د ډیپلوماتیکو هڅو په منځ کې یې پوځي انتخاب غوره کړ او د روان زېږدیز کال د فبرورۍ په ۲۸مه یې، د ایران پر ځینو اهدافو د بریدونو له لارې عملاً د عمان په منځګړیتوب جینوا کې د خبرو اترو بهیر ګډ وډ کړ. د واشنګټن اساسي محاسبه دا وه چې دغه اقدام به په لنډ وخت، یعني له یوې تر دوو اونیو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پورې، ایران دې ته اړ کړي چې د امریکا غوښتنې ومني او یو اړخیزې هوکړې ته به غاړه کېږدي، خو د وخت په تېرېدو ځرګنده شوه، چې د واشنګټن اټکلونه او محاسبې د شته واقعیتونو پر بنسټ نه، بلکې د احساساتو پر اساس نیول شوي وو.

سره له دې چې د جګړې ځو لسیزې تېرېږي، خو تهران نه یوازې دا چې د واشنګټن فشارونو ته نه دی تسلیم شوی، بلکې د خپلو پوځي او ستراتیژیکو وړتیاوو پر بنسټ یې مقاومت ته دوام ورکړی او په ډېرو برخو کې برلاسی هم دی. د متقابلو بریدونو دوام، د جګړې د ساحې پراخوالی او د ځواب ویلو وړتیا، د دې ښکارندوینه کوي چې تهران د لنډمهاله جګړې له پاره نه، بلکې د اوږد مهاله مقاومت له پاره ځان چمتو کړی و او لا هم چمتو دی.

د ټرمپ اداري ویلي، ایران سره د جګړې د لومړیو شپږ ورځو لګښت ۱۱ اعشاریه ۳ میلیارد ډالرو ته رسېدلی دی. ورته مهال ایران ادعا کړې، چې د جګړې په ۱۲ ورځو کې یې امریکا ته ۳۰ میلیارده ډالر زیان اړولی دی. له بل لوري د امریکا د استازو جرګې اندېښنه ښودلې، چې ممکن دا لګښتونه تر ۵۰ میلیارد ډالرو واوړي. الجزیرې انګلیسي څانګې لیکلي:

«پر ایران د امریکا او اسراییلو په بریدونه کې شاوخوا ۲ زره کسان وژل شوي دي.»

همدا ډول د یونیسف یوې منبع ویلي چې:

«دې جګړه کې ۱۱۰۰ ماشومانو ته مرګ ژوبله اوښتې او دا وضعیت خورا د اندېښنې وړ دی.»

په همدې لړ کې، د امریکایي–اسراییلي رسنۍ «آکسیوس» وروستی تحلیلي راپور چې د ۴۵ ورځنۍ لنډمهاله اوربند خبره پکې شوې، پراخ غبرګونونه راپارولي دي. د دې راپور له مخې، یو شمېر منځګړي هڅه کوي، چې د روان کړکېچ د کابو کولو له پاره پر داسې لنډمهاله اوربند هوکړه وشي، ځو له مخې یې د د خبرو اترو بیا پیل ته زمینه برابره شي. خو په دې راپور کې مهم ټکی دا دی چې حتا د ۴۵ ورځني اوربند او مذاکراتو پر مهال به هم د جګړې سیوری پر ځای وي.

د اوربند دې طرحې د شنونکو جدي شکونه راپورته کړي دي. ایراني رسنیو په انتقادي تحلیلونو کې دا وړاندیز د یوې واقعي حللارې پر ځای د یوې پېچلې سناریو برخه بللې ده. د دې رسنیو د تحلیلونو له مخې، داسې طرحې او وړاندیزونه ښایي د رواني جګړې برخه وي او امریکا ته د جګړې له ډګره د شاتګ او تېښتې زمینه برابره کړي.
د دې طرحې پر وړاندې د ایراني رسنیو په تحلیلونو کې ځو مهم ټکي مطرح شوي دي: لومړی دا چې ښایي د ۴۵ ورځني اوربند طرحه د دې نښه وي چې ډونالډ ټرمپ غواړي له خپلو وروستیو ګواښونو، لکه د ایران د حیاتي زېربناوو له په نښه کولو شاتګ وکړي، ځکه دا ګواښونه د تهران له جدي خبرداریو سره مخ شوي دي. دویم دا چې ایران تر دې وړاندې هم لنډمهاله اوربند رد کړی او دلیل یې دا دی، چې مقابل لوری له دا ډول فرصتونو په استفادې ځان تجهیزوي.

د ایراني رسنیو د تحلیلونو له مخې، که د جګړې د پای له پاره د تهران اساسي شرطونه پوره نه شي، نو موقتي اوربند نه یوازې کړکېچ نشي کابو کولی، بلکې ښایي په نورو بنو د فشارونو دوام، په ځانګړي ډول د جګړې تر سیوري لاندې د مقابل لوري سیاسي، اقتصادي او ان د پوځي ګټو خوندیتوب ته زمینه برابره کړي.

په لویه کې، دا پرمختګونه د دې ښکارندوینه کوي، چې واشنګټن اوس له یوې سختې معادلې سره مخامخ دی، هغه دا چې له یوې خوا به د جګړې دوام د دوي له پاره لا ډېر اقتصادي، پوځي او کورني لګښتونه ولري او له بلې خوا به، له کومې لاستهروړنې پرته د جګړې پرېښودل د متحده ایالاتو د نظامي او ستراتیژیکې ماتې په توګه تعبیر شي.

په همدې چوکاټ کې، پر ایران د فشارونو زیاتوالی او د برېښنا پر زېربناوو د بریدونو ګواښ، هغه هڅه ده چې له مخې یې واشنګټن غواړي د شرایطو په منلو سره تهران هوکړې ته اړ کړي، خو د جګړې په ډګر کې وروستیو تجربو ثابته کړې، چې دا ډول فشارونه د واشنګټن له پاره مطلوبې پایلې نه شي لرلای، ځکه د ایران له رسمي دریځونو داسې ښکاري چې د جګړې پای یوازې د ځانګړو شرطونو په پوره کېدو سره ممکن دی، او د تهران مقاومت ثابته کړه چې بېرنی او احساساتي پرېکړې د مقابل لوري له پاره اوږدمهاله پایلې لرلای شي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ